مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۶۰** (از ۲۱ الی ۲۸ حمل ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه........................................ ۲

## د اسلامي همکارۍ سازمان او افغانستان

- د اسلامي همکارۍ سازمان (OIC) شالید........................................ ۳
- د اسلامي همکارۍ سازمان د ناکامۍ لاملونه........................................ ۵
- افغانستان او د اسلامي همکارۍ سازمان........................................ ۶
- وروستۍ (۱۳مه) غونډه........................................ ۷
- د اسلامي همکارۍ سازمان راتلونکی........................................ ۸

## حکومت وحدت ملی؛ از نخستین الی آخرین سفر جان کری

- ایجاد حکومت وحدت ملی........................................ ۱۰
- ضعف‌ها........................................ ۱۰
- دست‌آوردها........................................ ۱۱
- چالش‌های فراراه حکومت........................................ ۱۲
- آیندۀ حکومت وحدت ملی........................................ ۱۳

## مقدمه

د اسلامي همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو د مشرانو ۱۳مه غونډه د جمعې په ورځ پای ته ورسېده. په دغه دوه‌ورځنۍ غونډه کې، چې د ترکیې په استانبول کې جوړه شوې وه، د افغانستان په ګډون د شاوخوا ۳۰ هېوادونو مشرانو او نورو جګپوړو چارواکو ګډون کړی و. په غونډه کې تر ډېره د سوریې، فلسطین، یمن، عراق او په ټوله کې د اسلامي نړۍ د وضعیت په اړه بحثونه وشول او په پای کې یې یوه ۲۰۰ ماده‌ییزه اعلامیه هم صادره کړه. دا چې په وروستۍ غونډه کې څه تېر شول، د دغه سازمان شالید او له افغانستان سره یې اړیکې څه دي، دلته پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې، افغانستان ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کري د وروستي سفر په اړه لولئ. له تېرو څو میاشتو راهیسې د ملي وحدت حکومت د سیاسي هوکړه‌لیک په اړه بحثونه اوربدل کېدل او په سپټمبر میاشت کې د دغه دوه کلن هوکړه‌لیک د پای نېټې له رارسېدو سره اجرائیه ریاست پوسټ ناقانونه بلل کېده؛ خو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کري چې د دغه حکومت باني بلل کېږي، تېره اوونۍ په یوه نااعلان شوي سفر کابل ته راغی او د حکومت له مشرانو سره له خبرو اترو وروسته یې، په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل، چې د ملي وحدت حکومت هوکړه‌لیک د دوه کلونو لپاره نه بلکې د پنځو کلونو لپاره اعتبار لري او دا حکومت به تر پنځو کلونو پرې دوام کوي.

دا هرڅه داسې مهال دي، چې د ۲۰۱۶ کال له پیلېدو سره دغه کال د ملي وحدت حکومت لپاره د سیاسي سقوط کال هم وبلل شو او پر حکومت له بېلابېلو اړخونو پراخې نیوکې موجودې دي. ملي وحدت حکومت په تېر یوه نیم کال کې څه لاسته راوړنې او څه کمزورۍ لرلې؟

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل څانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# د اسلامي همکارۍ سازمان او افغانستان




د ترکيې په استانبول ښار کې د اسلامي همکارۍ سازمان ۱۳مه غونډه وشوه، چې د دغه سازمان تر ۳۰ د زیاتو غړو هېوادونو مشرانو پکې ګډون کړی و او له افغانستانه هم اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله او د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني برخه اخيستې وه.

به عمومي ډول په دغه غونډه کې د ترهګرۍ، کډوالو، فلسطين، سوريې، اسلاموفوبيا او د مسلمانو هېوادونو ترمنځ پر همکارۍ خبرې اترې وشوې.

دا چې د اسلامي همکارۍ سازمان شاليد څه دی، دوی په خپلو موخو کې تر اوسه ولې ناکام شوي، له افغانستان سره يې اړيکې څرنګه دي او راتلونکی به يې څه ډول وي؟ په دغه تحليل کې پرې شننه کوو.

## د اسلامي همکارۍ سازمان (OIC) شالید

په شلمه پېړۍ کې د اسلامي ویښتابه هغه بځرکې چې د افغاني سيد د هلو ځلو له کبله بل شوي وو، په شلمه پېړۍ کې يې په مسلمانانو کې تاوده غبرګونونه راوپارول. له همدې ځايه وه، چې په شلمه پېړۍ کې که له يوې

خوا د اسلامي ویښتابه په اړه تحریکونه، مفکرین، یو شمېر نخبه‌گان وزېږېدل او انقلابونه رامنځته شول، نو په بل اړخ کې د مسلمانانو د یووالي په اړه هم غړونه پورته شول.

د مسلمانانو د همدغه یو کولو په اړه، په سره جگړه کې، چې کله اسراییل وزېږېد او د عربو-اسراییلو جگړو له کبله د مسلمانانو سپیڅلې خاوره اسرایلي منگولو ته ولویده او په پای کې د ۱۹۶۹ کال د اگست په ۲۱مه د الاقصی جومات د یو څو تنو اسراییلي یهودو له‌خوا وسوځول شو، نو د دغې پېښې په غبرگون کې د اسلامي نړۍ یو شمېر کسان په تېره بیا د الفیصل د هلو ځلو له کبله دا سازمان د همدغه کال د سپټمبر په ۲۵مه په مراکش (المغرب) کې د ۲۵ اسلامي هېوادونو له خوا جوړ شو. افغانستان هم یو له دغو ۲۵ هېوادونو څخه وو، چې د دغه کنفرانس د بنسټ ډبره یې کېښوده.

د دغه کنفرانس لومړۍ غونډه، د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ په ۱۹۷۰ کال کې د سعودي عربستان په جده ښار کې وشوه او د اسلامي همکارۍ سازمان دویمه ناسته بیا په ۱۹۷۴ کال کې په لاهور کې وشوه.

د اسلامي همکارۍ سازمان له ملگرو ملتونو راوروسته دویم ستر نړیوال سازمان دی او دا مهال د افغانستان په گډون له څلورو لویو وچو څخه ۵۷ هېوادونه پکې غړیتوب لري. د دغه سازمان مهمه موخه، د غړو هېوادونو ترمنځ د یووالي او همکارۍ پیاوړتیا ده او په اقتصادي، فرهنگي، علمي او نورو ډگرونو کې د غړو هېوادونو ترمنځ همکارۍ هم د دغه سازمان په موخو کې شاملېږي. د هغو شخړو او جگړو پر مهال چې د دغه سازمان کوم غړی هېواد پکې طرف وي، د مسلمانو ملتونو د ملاتړ په موخه، د ملگرو ملتونو له سازمان سره هم د همکارۍ او مشورې په کچه کې اړیکې لري.[1]

د دغه سازمان لومړی نوم، د اسلامي کنفرانس سازمان و، چې د ۲۰۱۱ کال په جون کې د دغه سازمان د بهرنیو چاور وزیرانو په ۳۸مه غونډه کې چې د قزاقستان په پلازمېنه استانه کې جوړ شوی و، د اسلامي همکارۍ سازمان ته واړول شو.

[1] Organization of Islamic Cooperation (OIC), History: http://www.oic-oci.org/oicv3/page/?p_id=52&p_ref=26&lan=en

## د اسلامي همکارۍ سازمان د ناکامۍ لاملونه

د اسلامي همکارۍ سازمان چې په ۱۹٦۹ کال د کومې موخې په اړه جوړ شو، تراوسه د هغې موخې په ترلاسه کولو کې ناکام شوی. د اسلامي همکارۍ سازمان ته هغه مهال ډېره ضربه ورسېده، چې کله د اسلامي نړۍ ځینو هېوادونه په خپلو کې د فکري، ایډیالوژیکي او فرقه‌یي اختلافاتو له کبله په سړو او ان ګرمو جګړو کې هم ننوتل. د بیلګې په ډول د ایران-سعودي سړه جګړه؛ د ایران-عراق جګړه، په مصر او نورو هېوادونو کې کودتایي رژیمونه.

دا چې اسلامي نړۍ او د اسلامي همکارۍ سازمان، سره له دې چې د دغه سازمان غړي هېوادونه د نړۍ د نفوس ۲۲سلنه او د انرژۍ ۷۰ سلنه تولیدوي، ولې ونه کړای شول، چې خپلو موخو ته ورسېږي او ځان د یوې واحدې نقطې په څېر وښیي؟ لاملونه یې په لاندې ډول دي:

- **د شیعه-سني ستونزه؛** په ایران کې د اسلامي انقلاب له راتګ سره، په سیمه او نړۍ کې د شیعه مذهب پلویانو یو داسې حکومت چې اساسات او اصول یې پر شیعه مذهب ایښودل شوي وو، ترلاسه کړ. له همدې ځایه د ایران اسلامي انقلاب د نورو ایډیالوژیکي ګوندونو په شان د خپلې ایډیالوژۍ او مذهب صادرول هم پیل کړل، په دې اړه په سوریه، افغانستان او عراق کې د ایران هلې ځلې د همدې خبرې ښکارندوی دي.

  په ایران کې د شیعه اسلامي انقلاب له راتګ سره، اسلامي نړۍ په بنسټیزه توګه په شیعه-سُني بلاکونو وویشل شوه او له همدې ځایه د ایران-سعودي؛ ایران-مصر؛ او ایران-ترکیې ترمنځ سړې جګړې پیل شوې، له ایران-سعودي پرته په نورو برخو کې یوازې یو څو ځله د دغو هېوادونو ترمنځ اړیکې ښې شوې.
- **د اسلامي هېوادونو ترمنځ ناحل شوې شخړې؛** د یو شمېر اسلامي هېوادونو ترمنځ هم د استعماري پېر له مهاله داسې ناحل شوې شخړې پاتې دي، چې د دغو هېوادونو په بهرني سیاست اغېزې کوي او بیا په پای کې د اسلامي همکارۍ سازمان هم اغېزمنوي. د دې ترڅنګ یو شمېر نورې ناحل شوې شخړې هم شته دي. د بیلګې په ډول د پاکستان او افغانستان ترمنځ سرحدي ستونزه، په منځنۍ اسیا کې د اوبو د وېشلو په تړاو ستونزه او نور د اسلامي همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ داخلي اختلافات.

- **د مشرۍ پر سر سیالي؛** د مشرۍ پر سر سیالي هم یوه له هغو قضیاوو څخه ده، چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته اسلامي نړۍ ورسره مخ ده. سعودي، ترکیه، ایران، مالیزیا، اندونیزیا، مصر او پاکستان هغه هېوادونه دي، چې هر یو یې ځان د اسلامي نړۍ د مشرۍ وړ بولي.
- **له نړیوالو زبرځواکونو سره د اسلامي نړۍ د غړو تړاو؛** د سړې جګړې پرمهال د دغه سازمان د ناکامۍ یو عمده لامل دا هم وو، چې اسلامي نړۍ هم په درېیو بلاکونو کې ویشل شوې وه: یو بلاک په کاپیتالیستي بلاک کې و، بل د شورویانو تر اغېزو لاندې او بل بیا د ناپېیلتوب په غورځنګ کې و. له همدې کبله دوی ونه شو کړای، چې د مختلفو قضیاوو په اړه یو غږ خپل کړای شي.
- **د اسلامي نړۍ سیاسي جوړښتونه؛** د ناکامۍ بل لامل په خپله د اسلامي نړۍ د یو شمېر هېوادونو اساسي قانونونه یا په خپله حکومتي جوړښتونه وو. په ډېرى هغو هېوادونو کې، چې سیاسي جوړښتونه سره ورته وي، هلته د اتحادیې سازمانونه بریالي کېږي، د بیلګې په ډول اروپایي ټولنه.

## افغانستان او د اسلامي همکارۍ سازمان

افغانستان یو له هغو لومړنیو هېوادونو څخه و، چې د اسلامي همکارۍ سازمان بنسټ یې کېښود. همدا راز په عرب-اسرایلي جګړه کې یې د عربانو په ملاتړ اعلامیې صادرې کړې. هغه مهال چې شورویانو پر افغانستان یرغل راووړ، نو د اسلامي همکارۍ سازمان اړیکې له افغانانو سره ډېرې نږدې شوې. دغه سازمان د شوروي پرضد د اعلامیو وراخوا له افغان مجاهدینو او کډوالو سره په مختلفو برخو کې پراخې مرستې وکړې.

د شورویانو له وتلو وروسته هم، دغه سازمان د افغانستان د قضیې (کورنۍ جګړې) د حلولو په موخه ځینې هلې ځلې وکړې؛ خو له بده مرغه ناکامې شوې. د افغان طالبانو د حکومت له ړنګېدو وروسته په افغانستان باندې د امریکایي یرغل په اړه د اسلامي همکارۍ سازمان څه ونه شو کړای او نه یې هم غږ پورته کړ.

وروسته په افغانستان کې د جګړې له تودېدو او د ناامنیو له زیاتېدو وروسته، د اسلامي همکارۍ سازمان وخت ناوخت د افغانستان د قضیې د حل په موخه د سولهییزې تګلارې سپارښتنه وکړه. په همدې موخه یې په ۲۰۱۱ کال یې په کابل کې خپله څانګه پرانیسته. خو تر اوسه یې د افغانستان د قضیې په اړه د شوروي-یرغل پړاو په پرتله، کوم فعال او رغنده رول نه دی لوبولی.

## وروستۍ (۱۳مه) غونډه

د اسلامي همکارۍ سازمان ۱۳مه غونډه د رواني میلادي میاشتې اپرېل په ۱۴مه او ۱۵مه (پنجشنبه او جمعه) د ترکیې په مشرۍ د شاوخوا ۳۰ اسلامي هېوادونو د مشرانو په ګډون په استانبول کې جوړه شوه، چې له افغانستانه هم د ملي وحدت حکومت اجرائي رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله ګډون پکې کړی و. د غړو هېوادونو د مشرانو ترڅنګ د دغو هېوادونو د پارلمانونو رئیسانو او بهرنیو چارو وزیرانو هم ګډون کړی و.

په ۱۳مه غونډه کې د یمن، عراق، فلسطین او همدا راز د کډوالو پر موضوعګانو او په ټوله کې د اسلامي نړۍ د وضعیت په اړه بحثونه وشول.

د دې غونډې ترټولو مهمه موضوع د سوریې قضیه وه، خو له سوریې څخه چا ګډون نه و پکې کړی. د سازمان سرمنشي اياد امین مدني په دې اړه له غونډې مخکې ویلي وو: «موږ په سازمان کې د سوریې غړیتوب ځنډولی دی. موږ د سولې له خبرو اترو ملاتړ کوو. د سوریې په راتلونکي کې د بشارالاسد ځان نه وینو او باور نه لرو چې هغه به د حل لارې یوه برخه وي. ټوله ستونزه څپله همدی دی.» خو دا هغه دریځ نه دی چې د سازمان ټول غړي دې ورسره موافق وي؛ بلکې په دې غونډه کې د سعودي پادشاه ملک سلمان او د ایران ولسمشر حسن روحاني ګډون کړی و، چې له دغو دواړو سیمه‌ییزو رقیبانو څخه یو یې د بشارالاسد ګوښه کېدل غواړي او بل یې ملاتړی دی.

د اسلامي هېوادونو ترمنځ اختلافاتو هم په دې غونډه سیوری غوړولی و. په دې سرمشریزه کې د سوریې د نه ګډون ترڅنګ یو بل ستر غایب هم د مصر ولسمشر عبدالفتاح السیسي و، چې پر ځای یې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر ګډون کړی و. د ترکیې او مصر اړیکې د مصر پر منتخب ولسمشر محمد مرسي له کودتا وروسته خړې پړې شوې، چې د سعودي عربستان له منځګړیتوب سره سره، لا هم نه دي عادي شوې.

له دې سره سره په دې غونډه کې هڅه وشوه، چې د اسلامي نړۍ اختلافات د هواري په لوري ولاړ شي. د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د شیعه او سني قضیې او نورو مذهبي قضیو د حل غږ وکړ او دا یې د اسلامي نړۍ ستره ستونزه وبلله. نوموړي وویل: «زما دین شیعه یا سني نه دی، بلکې زما دین اسلام دی».

د دغې غونډې په اختتامیه بیان کې حزب الله ډله په سوریه، بحرین، کوېټ او یمن کې په ترهګریزو کړنو کې د ښکېلتیا له کبله غندل شوې وه او د ایران سیاستونو ته هم د غندنې ګوته نیول شوې وه. په دې غونډه دغه راز د فلسطین د قضیې لپاره هم د (۲۰۱۶-۲۰۲۵) کلونو لپاره یوه کړنلاره جوړه شوه. د دې ترڅنګ د سازمان د سرمنشي په وینا، په اختتامیه بیان کې تر ۲۰۰ زیاتې پرېکړې شاملې دي.

## د اسلامي همکارۍ سازمان راتلونکی

د اسلامي نړۍ او د اسلامي همکارۍ سازمان راتلونکی تر ډېره له اقتصادیاتو سره نښلول شوی؛ ځکه سیاسي اختلافات به اوس او په راتلونکي کې هم په طبیعي ډول د اسلامي نړۍ دننه موجود وي (له سیاسي اختلافاتو څخه خلاصون تر ډېره ناممکن برېښي).

له همدې ځایه ده، چې د اسلامي نړۍ او د اسلامي همکارۍ سازمان دننه د اروپايي ټولنې په څېر د اقتصادي راکړې-ورکړې او د علم، ټکنالوژۍ، ساینس او نورو برخو کې یو بل ته د بې‌خنډه پولو پرانیستلو اړتیا زیاته شي.

د دې ترڅنګ د دکتور مهاتیر محمد د ۲۰۰۳ کال د هغو سپارښتنو اړتیا، چې ده د دغه سازمان د ۲۰۰۳ کال په غونډه کې پرې ټینګار وکړ (لکه سیاسي جمود، اقتصادي وروسته‌والی، د ډیموکراسۍ او د استازیتوب وړ حکومتونو نه شتون)، اوس هم لیدل کېږي، د دې ترڅنګ باید په اسلامي نړۍ کې د شفافیت او ځواب ورکونې له زیاتولو سره په یو شمېر برخو کې اصلاحات هم رامنځته شي. په هغه صورت کې بیا کیدای شي، چې دغه سازمان او اسلامي نړۍ د یوې حقیقي همکارۍ په لور ولاړه شي.

# حکومت وحدت ملی؛ از نخستین الی آخرین سفر جان کری



جان کری وزیر خارجهٔ امریکا روز شنبه ۲۱ حمل زمانی در یک سفر از قبل اعلام ناشده وارد کابل شد که بگومگوها میان سران حکومت وحدت ملی در مورد توافقنامهٔ دوسالهٔ حکومت وحدت ملی بالا گرفته بود. این توافقنامهٔ سیاسی، در ماه سپتمبر امسال پایان می‌یابد و بسیاری مواد آن هنوز عملی نشده‌اند. از یک‌سو تاکنون پست ریاست اجرائیه در قانون اساسی افغانستان ایجاد نشده و از سوی دیگر اصلاحاتی که سران حکومت وحدت ملی روی آن توافق نموده بودند، اجرا نشده است. این مساله نگرانی‌هایی را در کابل دامن زده و مخالفت‌هایی را در درون حکومت به میان آورده بود. در کنار این، فشارها از بیرون حکومت نیز افزایش یافته بود.

ظاهراً سفر جان کری برای حمایت از حکومت افغانستان و نیروهای امنیتی افغان صورت گرفت؛ ولی او در این سفر خود به حل و فصل اختلافات سران حکومت وحدت ملی پرداخته و طی کنفرانس مطبوعاتی در کابل گفت که حکومت وحدت ملی تاریخ انقضاء ندارد و بر اساس توافقنامهٔ که وی آنرا زمینه‌سازی نموده بود، این حکومت پنج سال اعتبار دارد.

هرچند این سفر جان کری اختلافات داخلی حکومت را کاهش داد، ولی انتقادهای شدیدی را نیز در پی داشت. حامد کرزی رئیس جمهور پیشین، اپوزیسیون سیاسی حکومت و شماری از اعضای پارلمان اظهارات جان کری را خلاف حاکمیت ملی افغانستان عنوان نمودند.

## ایجاد حکومت وحدت ملی

در پنج اپریل ۲۰۱۴ دور اول انتخابات ریاست جمهوری در افغانستان برگزار گردید که در آن هیچ یک از نامزدان نتوانستند آرای لازم برای برنده‌شدن در انتخابات را کسب نماید. پس از دور دوم انتخابات باوجود تنش‌ها در مورد تقلب گسترده در انتخابات، اشرف غنی آرای لازم برای برنده‌شدن در انتخابات را کسب نمود، ولی رقیب انتخاباتی وی داکتر عبدالله عبدالله نتائج انتخابات را نپذیرفت و به مخالفت پرداخت. مخالفت تیم انتخاباتی وی کشور را با یک بحران سیاسی روبه‌رو نمود.

بالآخره در سپتمبر ۲۰۱۴ جان کری وزیر خارجۀ امریکا به افغانستان آمد و طی توافقنامۀ سیاسی که به میانجیگری وی میان اشرف غنی و داکتر عبدالله به امضاء رسید، اشرف غنی به حیث رئیس جمهور و داکتر عبدالله به حیث رییس اجرائیه اعلام گردیدند و بر تقسیم ۵۰-۵۰ قدرت توافق نمودند. به این ترتیب حکومت وحدت ملی ایجاد گردیده و جنجال‌های انتخاباتی را خاتمه بخشید.

## ضعف‌ها

- **اختلافات داخلی:** حکومت وحدت ملی از دو تیمی تشکیل گردید که اختلافات زیادی میان آن‌ها وجود داشت. این اختلافات روی تشکیل حکومت نیز تاثیر گذاشت و باعث گردید تا شماری از ادارات کلیدی حکومت به شمول وزارت‌خانه‌ها و ولایات، توسط سرپرست‌ها اداره گردند.
- **عدم هماهنگی:** این حکومت از همان آغاز در برخی از بخش‌ها چون مبارزه با فساد اداری، سیاست خارجی، قضیۀ مهاجرین و غیره، فاقد هماهنگی در راه‌کارها بود.
- **ناکامی تلاش‌های صلح:** تلاش‌های حکومت وحدت ملی برای آوردن صلح به کشور تاهنوز نتیجۀ مطلوبی نداشته و مخالفین مسلح حکومت نیز از اشتراک در گفتگوهای چهارجانبۀ افغانستان، پاکستان، چین و امریکا انکار نمودند.
- **ناکام ماندن در تامین امنیت:** ضعف دیگر حکومت وحدت ملی در یک‌ونیم سال گذشته، ناکام ماندن در تامین امنیت بود چنانچه اکنون در بسیاری از مناطق کشور جنگ شدیدی نسبت به ۱۴ سال گذشته جریان

دارد و در سال گذشته یکی از شهرهای مهم کشور و شمار زیادی از ولسوالی‌ها نیز به دست طالبان سقوط کرد.[2]

- **وضعیت خراب اقتصادی:** در طول یک‌ونیم سال گذشته گام‌هایی که در نتیجۀ آن اعتماد اقتصادی به میان آید، برداشته نشد. همین دلیل بود که سرمایه‌ها از کشور فرار نموده و بی‌کاری و وضعیت خراب اقتصادی صدها هزار جوان افغان را راهی کشورهای اروپایی کرد.
- **ناکامی در برآورده کردن تعهدات:** بر اساس آمار یک ارگان خصوصی، حکومت وحدت ملی تا حال ٪۷ از تعهداتی را که به مردم سپرده بود عملی نموده، ٪۳۱ آن در جریان است و روی ٪٦٠ از وعده‌هایش هنوز کار را آغاز ننموده. ٪۲ وعده‌هایی را که به مردم سپرده بود، با وجود سپری شدن وقت تعیین شده برای تحقق این وعده‌ها، عملی نکرده است[3].

## دست‌آوردها

دست‌آوردهایی که حکومت وحدت ملی تااکنون داشته، می‌توان به صورت ذیل دسته‌بندی نمود:

- **گذر از مرحله بحرانی در کشور:** پس از جنجالی شدن انتخابات ریاست جمهوری، وضعیت کشور به سوی بحرانی شدن در حرکت بود. توافق سیاسی نامزدان وضعیت کشور را از یک بحران احتمالی نجات داد و هر دو تیم تاحدی کنار هم آمدند. این توافق به عنوان نخستین دست‌آورد برای این حکومت تلقی شد. از سوی دیگر، قبل از سال ۲۰۱۴، نگرانی‌ها و تبلیغات منفی در مورد وضعیت کشور بعد از سال ۲۰۱۴ بیشتر بود. حکومت وحدت ملی نیز در این سال تشکیل گردید و مسؤولیت اوضاع را در کشور به عهده گرفت که برخلاف پیشبینی‌ها تا هنوز به حیات خویش ادامه داده است.
- **پروژه‌های اقتصادی درازمدت:** حکومت وحدت ملی توانست تا دو پروژۀ بزرگ اقتصادی را جامۀ عمل بپوشاند و کار عملی پروژۀ انتقال گاز «تاپی» و «کاسا-۱۰۰۰» آغاز گردد.
- **جلب توجه کشورهای منطقه در مسائل افغانستان:** کشورهای آسیای مرکزی و چین پس از ایجاد حکومت وحدت ملی در مسائل افغانستان نقش فعالی ایفاء نمودند. به گونۀ مثال، حضور فعال چین در پروسۀ

---

[2] مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی، تحلیل هفته، شماره ۱۳۶: http://csrskabul.com/pa/?p=2365

[3] برای معلومات بشتر به آدرس ذیل مراجعه نمایید: http://govmeter.tolonews.com/

گفتگوهای صلح افغانستان با طالبان[4] و یا هم نقش فعال کشورهای آسیای مرکزی در پروژه‌های اقتصادی در افغانستان.

- **دست‌آوردها در مبارزه با فساد اداری:** هرچند راه‌کار حکومت وحدت ملی در مبارزه با فساد تا حد زیادی هماهنگ نبود، ولی با آن هم این حکومت در مبارزه با فساد اداری نیز دست‌آوردهای اندکی داشت. به گونهٔ مثال، از طریق کمیسیون تدارکات ملی پول‌هایی را به دست آورد. همچنان برخی از قرضه‌های کابلبانک را نیز به دست آورد.
- **مهاجرین:** نخستین پلان استراتیژیک مهاجرین تهیه گردید و با حکومت‌های پاکستان و ایران توافق صورت گرفت تا مهاجرین ناراجستر را راجستر نمایند.
- **سیاست خارجی:** روابط خراب با ایالات متحدهٔ امریکا نسبت به دورهٔ قبلی بهتر گردید. همچنان با شمار از کشورهای منطقه چون پاکستان، چین و عربستان سعودی نیز روابط کشور نسبت به گذشته در وضعیت بهتری قرار گرفت.

## چالش‌های فراراه حکومت

گرچند حکومت وحدت ملی با چالش‌های زیادی مواجه است، ولی مهم‌ترین آنها را می‌توان چنین برشمرد:

- **مشروعیت:** حکومت وحدت ملی نه بر اساس قانون اساسی افغانستان، بلکه بر اساس توافقنامهٔ سیاسی بین دو رقیب انتخاباتی به وجودآمده است و به باور بسیاری از آگاهان حقوقی، خلاف قانون اساسی می‌باشد. از همین‌رو، عدم مشروعیت بزرگترین چالش فراراه حکومت پنداشته می‌شود که این حکومت را با مشکلات زیادی مواجه نموده است. باآنکه این حکومت می‌توانست با نشان دادن کارایی‌اش در عرصهٔ عمل، خلای ناشی از عدم مشروعیت را پر کند، اما در میدان عمل نیز با مشکلات زیادی روبه‌رو شد.
- **اختلافات داخلی:** بر اساس توافق سیاسی که در هنگام تشکیل حکومت وحدت ملی میان اشرف غنی و داکتر عبدالله به امضاء رسیده بود، این حکومت باید زمینهٔ برگزاری لویه جرگه را فراهم نموده و پست صدراعظم را در قانون اساسی افغانستان ایجاد می‌نمود، ولی ناکامی در این کار به اختلافات داخلی حکومت افزوده است.

[4] Edward Wong and David Jolly, China considers larger role in Afghanistan Peace Process, New York Times, 2016-Jan- 24.
http://www.nytimes.com/2016/01/25/world/asia/china-considers-larger-role-in-afghanistan-peace-process.html?_r=0

- **فساد اداری:** بر اساس گزارش سال ۲۰۱۵ سازمان شفافیت بین‌المللی (TI)، افغانستان دومین کشور فاسد جهان شناخته شد و این نشانگر آن است که هنوز هم فساد اداری در افغانستان به عنوان یکی از چالش‌های جدی در برابر حکومت مطرح است و حکومت راه پرمشکلاتی در راستای مبارزه با فساد را در پیشرو دارد[5].
- **مشکلات امنیتی و اقتصادی:** وضعیت امنیتی با گذشت هر روز خراب‌تر می‌گردد و این وضعیت بر اقتصاد کشور نیز سایه افگنده و باعث فرار سرمایه‌ها از کشور می‌گردد و به این ترتیب بی‌کاری نیز در کشور افزایش می‌یابد.

## آیندۀ حکومت وحدت ملی

مهم‌ترین توافق موافقتنامۀ سیاسی حکومت وحدت ملی برگزاری لویه جرگه بود تا با تعدیل قانون اساسی افغانستان پست صدراعظم را ایجاد نمایند، پیش لازمۀ لویه جرگه، برگزاری انتخابات شورای‌های ولسوالی‌ها بود که تاهنوز ممکن به نظر نمی‌رسد. اصلاحات در نظام انتخاباتی نیز بخش مهم این موافقتنامۀ سیاسی بود، ولی تا هنوز حکومت وحدت ملی موفق به این کار نیز نشده است.

در کل اختلافات داخلی حکومت و قضیۀ مشروعیت نظام، این حکومت را با تهدید سقوط مواجه کرده بود که سفر جان کری، این مشکل را تا حدی حل نمود و ظاهراً چنان می‌نماید که این حکومت باوجود مشکلات کنونی و به شکل فعلی، به کار خود ادامه خواهد داد.

پایان

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.

[5] Corruption Perception Index 2015, Transparency International.
http://www.transparency.org/cpi2015